
www.agbalibrary.com

# مُچۍ او فیل

# مُچـــۍ او فیل


لیکوال لانګ راوي　　　مترجم سلیمان شاه سلطاني


دا کتاب له ۴ کلنۍ څخه تر ۹ کلنۍ پورې کوچنیانو ته وړاياست


کتاب مُچـــۍ او فیل

لیکوال لانګ راوي

مترجم سلیمان شاه سلطاني

د کمپیوټر او ویب سایټ چارې روح الله لمر

ډیزاین محیب الله رسولي

خپرندوی سیدګران آغا کتابتون

www.aghalibrary.com


www.aghalibrary.com

يو وخت د وختو په يوه ليري ځنګل کي يوه کوچنۍ مُچۍ د خپل کور څخه وتلې وه
کله چي بيرته خپل کور ته تلله لاره ځيني ورکه سوه. هغه د يوې درختي سره ناسته وه
په زوره زوره يې ژړل، که ګوري د هغه خوا يو ډير غټ فيل را روان وو.
فيل پوښتنه ځيني وکړل، اې کوچنۍ مُچۍ ته ولي ژاړې؟ کوچنۍ مُچۍ خپلي اوښکي پاکي کړې
او فيل ته يې وويل ته زما سره مرسته کوې؟ ما خپل کور ورک کړی دئ.


www.aghalibrary.com

فیل چې د مُچۍ خبرې واورېدې
پر هغې يې ډېر زړه وسوځې.
هغې ته يې وويل هو
زه ستا سره مرسته کوم.
کرار يې مُچۍ د ځان سره روانه
کړل او يوې ځالګۍ ته يې
پورته کړل.مُچۍ ته يې وويل
آيا دغه ځالګۍ ستا د اوسېدو
ځای دئ؟

www.aghalibrary.com



کوچنۍ مُچۍ بیرته په هوا سول،
فیل نو حیران ورته ګوري.
کوچنۍ مُچۍ بیرته په ژړا ورته راغله
یا دا زما کور ندئ دا د یوې چوغکي
کور دئ.




بیا فیل کوچنۍ مُچۍ
د ځان سره روانه کړل یوه
غره ته یې ته پورته کړل
او هلته یې یو غارګډی
پیدا کړي. د مُچۍ څخه یې
پوښتنه وکړل
آیا دغه ستا کور دئ؟

www.aghalibrary.com


مُچـۍ چـي ولیـدل د هغه
غارگـډي څخـه چوپـرکان پر
راووتـل، مُچـۍ خوارکـۍ يې
دونـه وبېـرول چـي بس نو
يـو مرگ يـې پـر تېر کړي.
مُچـۍ دسـتي فیـل تـه راوځغسـتل
ول یـا دا زمـا کور ندئ
دا د چوپرکانـو کـور دئ.




www.aghalibrary.com

د فیل خوارکي خو بیا وزن هم
ډیر دئ د مُچۍ سره ډیر ستړی
سو، ټوله ورځ یې مُچۍ یوې
او بلي خوا ته بوتلل خو لا هم
د هغې کور پیدا نه سو.
اخیر یې د ځان سره فکر وکړي
چي دا مُچۍ به د شاتو ځالي
ته ورولم ګوندي ددې کور هلته وي.
نو کرار یې مُچۍ را پورته کړل
او د شاتو یوې ځالي ته یې بوتلل.
د هغې څخه یې پوښتنه وکړل.
آیا دغه ستا کور دئ؟

www.aghalibrary.com



مُچۍ چې وکتل په هغه ځاله کې يې ورور او خور ناست وه ډيره

خوشحاله سول د ډيرې خوشحالۍ څخه يې چيغې کړې هو هو دا زما کور دئ.

دا زما ورور او خور دي.


www.aghalibrary.com

مُچۍ بیرته د خپل کوره راووتل، ورور او خور يې هم ورسره وه.
فیل ته يې ور ږغ کړل ډیره مننه فیل وروره تا ماته زما کور را پیدا کړي
زه به ستا دغه ښه هیڅکله هیر نه کړم.فیل ډیر ورځخه خوشحاله سو.
مُچۍ او د هغه ملګري ټول یو ځای سره پاوا سول
او خپلي لوبي يې شروع کړې.



اوس نو فیل هره ورځ مُچۍ ته ورځي

او مُچۍ هغه ته ډول ډول کیسې کوي.

دوی دواړه اوس خورا ټینګ ملګري سول.

www.aghalibrary.com

پا ی

# سید ګران آغا کتابتون

د سید ګران آغا (انلاین) کتابتون دا ویاړ لري چي د نړۍ په ګوټ ګوټ کي زرګونو پښتنو، افغانانو ته په وړیا شکل یې زرګونه کتابونه ډالۍ کړي.
نن سبا که وګورو دننه په افغانستان کي ډېر داسي خلک سته چي له کتاب سره زیاته مینه لري خو په اقتصادي بڼه د رانیولو توانائي یې نه لري او څوک چي له افغانستان څخه دباندي اوسیږي هغوي په فزیکي شکل کتاب نسي تر لاسه کولای نو ځکه موږ دا کتابتون چي زموږ د خدای بخښلي بابا
(سید ګران آغا) په نوم دی، جوړ کړئ. چي ټول خدمات یې په وړیا شکل دي.
پدې کتابتون کي دیني، طبي، ټولنیز، ارواپوهنه، تعلیمي، ساینس او ټکنالوجي، زرعت، انجینري او د نورو بېلابېلو برخو سلګونه او زرګونه کتابونه وجود لري. چي الحمدالله اوس مهال توانېدلی چي هره ورځ د هیواد دننه او دباندي سلګونه او زرګونه کتابونه ځیني کښته کیږي او لوستونکي یې لولي.
تاسي کولای سئ چي له لاندنۍ انټرنیټي پټي څخه زرګونه کتابونه په وړیا شکل کښته کړي.

**www.aghalibrary.com**

د لوئ الله ﷻ له دربار څخه زموږ بابا ته فردوس جنت غواړو.
په درنښت

د سید ګران آغا کتابتون اداره

# د روښانه افغانستان په تمه

مطالعه د انسان په ژوند کي د مثبت بدلون ضمانت کوي او تل مطالعه کوونکي ته د انساني نړۍ د تېرو کړنو او لاسته راوړنو نمایندگي په غاړه لري.

کتاب او مطالعه د انسان لپاره سالم مصروفیت بلل کیږي، او له ډیرو بېځایه کړنو څخه يې په امن کي ساتي.

له دنیوي گټو سره سره اخیروي گټي هم لري، لکه خپل علم او د معلوماتو ذخیره تر نورو رسول او هغوی ته سالمه روزنه ورکول او د اسلام لاري ته سوق کول.

څنگه کولای سو د مطالعې او کتاب کلتور ژوندی وساتو؟خپلو کوچنیانو ته له ماشوم توب څخه د کتاب لوستل پیل کړئ:که چیري کوچنیان له کوچنیوالي څخه په لوستلو عادت کړو نو نه یوازي چي دا کوچنیان به سمي خوا ته روان سوي وي بلکې سلگونه او زرگونه نوري گټي به هم ولري. نن سبا د ټیکنالوجۍ او انټرنیټ وخت دئ موږ تاسي په خپلو کورنو، ټولنه او ځایونو کي گورو چي کوچنیان په تیلفون یا گیمونو په لاسي لاس عادت کیږي. د کورنۍ ځیني مشران چي د خپل مصروفیت یا هم بې پروائي له خاطره خپل ماشومانو ته تیلفون، آی پېډ یا هم کمپوټرۍ گیمونه په لاس ورکړي تر څو دوی د څه وخت لپاره ورڅخه بې غمه سي.خو دا خبره باید په یاد ولرو چي دا تېز سکرینونه، فلسفوي کارټونونه او ډول ډول گېمونه به د وخت په تېرېدو نه یوازي کوچنیان په فزیکي بلکې په روحي تکلفونو هم اخته کړي. ځکه د دوي د سترگو نازکي پردې دومره توانائي نه لري چي هره ورځ په ساعتونو ساعتونو دا تېز سکرینونه وگوري او نه هم د دوي عقل دومره قوي دئ چي د روحي شکنجې څخه دي خپل ځان وژغورلای سي.

کوچنیانو ته د کتاب لوستلو ځیني گټي:کوچنیان به په ښه توگه خپله مورنۍ ژبه زده کړي

د دوي فکر به هر اړخیز وي. په خبرو به په ښه شکل پوهېدلای سي. فکري تمرکز یې پراختیا مومي.

دوي به مسلکي چلند کوي. خپل الله ج او رسول ص به پېژني. د ښه او بد تر منځ به توپیر کولای سي.

فکري او دماغي توازون ډیر ښه ساتي. د خپل ژوند په ارزښت به پوهه سي.روحي او فزیکي صحت به ولري.

